AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: انډي ورماوټ
ژباړن: سراج الحق ببرکزی ځدراڼ
۲۰۲۳/۰۲/۰۷

# د ډیورنډ کرښې په اړه یو نړیوال کنفرانس




یوه ستره تاریخي تېروتنه:
د ډیورنډ کرښې بلې غاړې ته پښتانه د خودارادیت حق په اړه څه نظر لري.؟ ا
افغانستان هېڅکله د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې.
موږ د روان کال د فبرورۍ په 17 مه نېټه د بلجیم په بروکسل ښار کې راټولیږو، تر څو د یوې مهمې موضوع په اړه بحث وکړو، دغې مهمې مسئلې ته د خبرو اترو یوه موکه ووربرابره کړو، ځکه دغه موضوع زموږ د ټولو ارزښتونو منځ زړې جوړوي او زموږ د باورونو زړه ته ورننوځي.
د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د ډیورنډ لعنتي کرښه راکښل یوه ستره تاریخي تېروتنه وه.
په 1893 کال کې د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ د ډیورنډ کرغیرنه کرښه د یوه لنډ مهاله حل لپاره وکښل شوه.
خو لکه څنګه چې موږ ټول پوهیږو، دې کرښې په سېمه کې او د سېمې په خلکو کې تلپاتې او ژورې اغیزې درلودلې دي.
یو ستر غني کولتور نیم پرې او ټوټه ټوټه شوې دی. کورنۍ سره جلا کړل شوې دي او یوه ستره تاریخي تېروتنه ترسره شوې ده. دا زموږ دنده ده، څو دا تېروتنه وپېژنو او ومنو، له دې زده کړه وکړو او د یوه ښه راتلونکي لپاره ګډ کار وکړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

موږ باید د دې مسئلې په اړه د عامه پوهاوي لوړولو لپاره، د خپل غږ وچتولو لپاره، د خپلو فعالیتونو، هڅو لوړولو لپاره او موږ باید خپل ټول پلیټ فارمونه وکاروو، تر څو داډ ترلاسه کړو، چې نړیواله ټولنه د دې ناوړې پریکړې اغېزې ووینې یا ګورې او خپلې تېروتنې په رسمیت وپېژني او ومني چې دا یوه ستره تاریخي تېروتنه ده.
د عامه ډیپلوماسۍ او ټولنیز ډیالوګ لپاره د نړیوالې شورا رییس ښاغلی انډي ورماوت وایې: زما هیله دا ده، چې د دې نړیوال کنفرانس له لپارې موږ وکولې شو خبرې اترې پیل کړو. په خلکو کې عامه پوهاوي او تفاهم ته وده ورکړو او د یوې حل لارې موندلو په لور ګامونه واخلو او ګډ کار وکړو، څو په سېمه کې تلپاتې سوله، عدالت او سوکالي راولي. راځئ چې په دې مهم کار کې سره یو ځای شو او په نړۍ کې د سمونه لپاره بدلون رامنځته کړو.
د ډیورنډ نړیوال کنفرانس موخې:
په دې نړیوال کنفرانس کې به د پښتونخوا پښتنو د خودارادیت حق په اړه به بحث او خبرې اترې وشي. د ښه قضاوت لپاره باید په پاکستان (پښتونخوا) کې د پښتنو سره یو ریفرانډم یا ټولپوښتنه ترسره شي. ایا دوی غواړي یو ځل بیا له افغانستان سره یو ځای شي.؟
ایا دوی غواړي خپلواک شي؟ او داسي نورو اپشنونو یا اختیارونو باندې خبرې اترې ترسره کیږي. دا خبرې اترې باید په سمه توګه منظمې تنظیم شي.
د پښتنو افغانانو لپاره دغه مهمه حیاتي موضوع او د ډیورنډ کرښې د برخلیک په اړه په دې نړیوال کنفرانس کې د سیمې ټولو څېړنوالو، سیاسي کارپوهانو او خبریالانو ته د ګډون بلنه ورکول کیږي.
دا کنفرانس د عامه ډیپلوماسۍ او د نړیوالې ټولنې ډیالوګ لپاره د نړیوالې شورا رییس یا مشر ښاغلی انډي ورماوټ لخوا رابلل شوي دی.

Andy Vermaut
President World Council for Public Diplomacy and Community Dialogue (WCPDCD)

انډي ورماوټ
د عامه ډیپلوماسۍ او ټولنیز ډیالوګ لپاره د نړیوالې شورا مشر
د اړیکی شمېره:
0032499357495


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ